ډاکترعبدالرحمن زمانی
۲۰۱۹/۲۴/۷

# د عین الدوله شهزاده امان الله خان قضاوت او محبوبیت

## (د هیواد د خپلواکۍ د ګټلو د سلمې کلیزې د رارسیدو په مناسبت د بریتانوي هند د اسنادو له آرشیف څخه)

انګرېزانو د امیر حبیب الله خان د سـلطنت په موده کې د افغانسـتان د وضـعیت او حالاتو د ځارنې په ترڅ کې، د عین الدوله (شهزاده امان الله خان) چې یو فعاله پر خپل هیواد، خپلواکۍ او خلکو ډېر مین شخصیت ؤ، کړه وړه او فعالیتونه هم له نږدې ځارل. دلته غواړم د کابل د امیر حبیب الله خان په دربار کې د بریتانوي هند د استازي حافظ سیف الله خان د استول شوو څو سیاسي – استخباراتي رپوټونو یادونه وکړم چې د ځوان شهزاده د نېکو اخلاقو او د خلکو په زړونو کې د هغه د محبوبیت او قضاوت څرګندونه کوي.

د انګرېزانو استازي د لغمان په کله ګوش کې د امیر حبیب الله خان تر وژل کېدو لږ د مخه خپل وروستني رپوټ کې ولیکل چې «عین الدوله [امان الله خان] د ټینګ عدالت، ښه قضاوت او لاس رسی له امله د مرکز د اداري چارو د واک په برخه کې د ټولې شاهي کورنۍ مشر ټاکل شوئ دی. ما اورېدلي دي چې هغه هره ورځ د یوه ډېر ساده دربار په جوړولو عادلانه پرېکړې کوي او دربار یې پرته له کومو تشریفاتو او بندیزونو د ټولو پر مخ پرانیستی وي. هغه په پوره لېوالتیا او بشپړ دقت سره د شتمنو او بېوزلو په شکایاتو یو شان غور کوي، له هیڅ ډول توپیره کار نه اخلي، او هر کس او ټول رعیت ورته یو شان لاس رسی لري. هغه له همدې امله د خلکو په زړونو کې ځای لري او د ښه محبوبیت خاوند دئ. د هغه کړه وړه او چار چلند د هغه د پلار امیر [حبیب الله خان] د چلند سره توپیر لري، چاته چې د بې وزلو شکایت نه رسېږي، او په بد نوم یادیږی» (۱). حافظ سیف الله خان د خپل رپوټ په پای کې زیاتوي چې اعلیحضرت امیر حبیب الله خان د فبروري د میاشتې په ۲۰مه شپه د لغمان په کله ګوش کې په ډز ویشتلی شوی او وژل شوی دئ، چې د امیر د وژل کېدو او نوي امیر د ټاکل کېدو بشپړ رپوټ به په جلا توګه وړاندې کړي.

د امان الله خان نیک اخلاق او د خلکو په زړونو کې محبوبیت، د نورو عواملو په څنګ کې د هغه سره مرسـته وکړه چې واکمنۍ ته د رسیدو په برخه کې پر خپل تره سردار نصرالله خان او ورور سردار عنایت الله خان بري ومومي. دغه برې د ګڼو دلایلو له امله ډیر سـتونزمن ښـکاره کیدو، ځکه چې هغه خو نه ولیعهد او د تاج و تخت وارث ؤ، نه هم د نصرالله خان او عنایت الله خان په شـان دربار کې د اثر رسـوخ خاوند ؤ، او نه یې هم د جګ پوړو ملکي او عسـکري مامورینو په ټاکلو کې کوم رول درلود (۲).

د امیر حبیب الله خان د ځای ناستي د استحقاق په هکله باید وویل شي چې رسم او رواج سره سم معین السلطنه عنایت الله خان د امیر د مشر زوې په توګه د پلار نه وروسته د هغه جانشین ګڼل کیده. نائب السلطنه نصرالله خان تمه درلوده چې د امیر عبدالرحمن خان د وصـیت او امیر حبیب الله خان د موافقې سره سـم د خپل ورور مقام ته ورسـیږي، او له همدې امله یې د امیر د وژل کیدو د خبر په اوریدو سره د امیر د خیمې نه بهر ناست او معین السلطنه سره د خواخوږۍ په ترڅ کې ویلي وو "اوس هغه وخت رارسیدلې چې تاسې زما سره داسې چلند وکړئ، کوم چې ما د ضیا ألملت والدین د مړینې په وخت کې ستاسې د پلار سره کړې او په اخلاص سره خدمت وکړ. عین الدوله امان الله خان له دوې او خپل دوهم مشر ورور عضدالدوله حیات الله خان نه وروسته په څلورم کتار کې ځاې درلود.

د اروانښـاد غلام محمد غبار په وینا "کله چې به د ژمي په موسـم کې امیر ډیر ځله په جلال آباد کې په عیاشۍ بوخت وو، شـهزاده امان الله خان به وار په وار د سـلطنت نیابت په غاړه درلود، او هڅه به یې کوله چې د بخشـش او ځوانمردې، عارضینو، بې وزلو، حاجتمندو، او عسکرو او مامورینو حالت ته په پاملرنې، د هغوې زړونه خوشحاله کړي. او کله چې بیا د ۱۹۱۹ م کال په ژمي کې امیر د لغمان د کله ګوش په سیمه کې ووژل شو، شهزاده امان الله خان د سلطنت نیابت په غاړه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

درلود او د علیا حضرت [ملکې] د ډاډ او پوهې، مشروطیت د غورځنګ، عسکرو او د کابل د اوسیدونکو په مرسته یې د خپل موقعیت نه استفاده کړی، خپله پادشاهي اعلان او خپل دغه اقدام سره یې د سلطنت نور مدعیان او رقیبان د یوه سرته رسیدلي عمل سره مخامخ کړل"(۳).

د انګریزانو د سفارت د ختیځو چارو د سکرتر په یوه بل استخباراتي رپوټ کې پدې هکله لیکل شوي چې «امان الله خان د ټولو هغو مخورو سرو سره چې له مرکزه لرې ولایاتو څخه کابل ته راتلل، پیژندګلوي تر لاسه کوله او د هغوې د ستونزو حل کول یې خپله دنده ګڼله. که چیرې د سفر مقصد خپله امان الله خان سره کتل ؤ، خپله به هغوې ته رسیده او مخکې لدې چې هغوې خپلو کورونو ته ستانه شي، هغوې ته به یې د توجه وړ سوغاتونه ورانديږ کول. امان الله خان په یوه لنډ وخت کې و توانیده چې د شور بازار د حضرت (۱) او قلعهٔ قاضي د شاه صاحب په شان روحاني مشرانو، مهمو ملایانو، او کوښري میرزمان خان په شان قومي مشرانو پلویتوب لاس ته راوړي» رپوټ زیاتوي چې «که به داسې پیښه شوه چې یو مهم شخص ستونزو سره مخامخ او بندي شي، امان الله خان به سمدلاسه د هغه خلاصولو ته ملا تړله. که مسئله به د هغه د اداري صلاحیت نه بهر او حبیب الله خان یا نصرالله خان پورې مربوط وه، نو په هغه صورت کې به امان الله خان په پټه د نوموړي شخص په استازي توب پیسې مصرفولې، د هغه سره به یې اړیکې ساتلې او په خواخوږی او مهرباني سره به یې د هغوې زړونه خوشحالول... امان الله خان به د مهمو کسانو د ناروغی په صورت کې د هغوې پوښتنه کوله، که به مړه شول، د هغوې د فاتحې په مراسمو کې به یې ګډون کولو. پدې توګه د غازي امان الله خان شخصیت څرګند شو او د خلکو په افکارو یې داسې تاثیر وکړ چې ټولو به خپل ریښتیني ملګری ګڼلو» (۴).

د شهزاده امان الله خان (عین الدوله) او غازی میرزمان خان کوښري تر منځ آشنايي چې د وخت په تیریدو او ګن شمیر ازمیښتونو نه وروسته په ټینګې دوستۍ او ورورولۍ بدله او د ژوند تر پایه ادامه درلوده، د غازي امان الله خان د دغه دول چلند یوه ښه بیلګه کیدای شي (پدې هکله زیاتو معلوماتو دپاره وګوری "د غازي میرزمان خان ژوند او مبارزو ته یوه لنډه کتنه"، ۷۴-۷۵ مخونه).

په کابل کې د انګریزانو استازي، حافظ سیف الله خان، وروسته په خپل یوه بل رپوټ کې د غازي امان الله خان د محبوبیت په هکله لیکي چې «نوي امیر[غازی امان الله خان] شپه او ورځ په دربار کې د ټولو مراجعینو د شکایتونو په اوریدو بوخت دئ. ویل کیږي چې ټول خلک ورته هر وخت پرته له کوم امتیاز او خاصې پاملرنې یو شان لاس رسي لري. او د ټولنې د ټولو لوړو او ټیټو طبقو په زړونو د ګرانښت د دغه غوره خصوصیت نشتوالې د هغه د پلار د سلطنت په دوران کې په بشپړه توګه څرګند ؤ. خلک د دغه نوي امیر ستاینه کوي او ادعا لري چې امان الله خان حق د اسلامي شرعې په اساس د تاج او تخت برحقه وارث پیژندلي شي»(۵).

(پای)

سرچینې:


۱. د بریتانوي هند د انګریزي استخباراتو د اسنادو محرمانه آرشیف، په کابل کې د انګریزانو د استازي خان بهادر حافظ سیف الله خان د ۱۹۱۹ کال د فبروري د میاشتې د رپوټ دوهمه ماده. Afghanistan & North West Frontier Diaries (L/P&S/10/202). Diary of the British Agent at Kabul Hafiz Saifullah Khan. Foreign & Political Department No. 142-7.3-19-27.
۲. زمانی، عبدالرحمن . بازنگری دورهٔ امانی و توطئه های انگلیس (۲۰۱۳) ص ۳۶.
۳. غبار، میر غلام محمد . افغانستان در مسیر تاریخ (۱۳۶۶) ص ۷٤۱.
۴. د بریتانوي هند د انګریزي استخباراتو د اسنادو د آرشیف د سیاسي او امنیت د شعبې ۲۸۹/۲۰ب شمیره محرمانه سند. همدا شان Olesen, Asta (1995)، ۱٦۷مخ .
۵ . د بریتانوي هند د انګریزي استخباراتو د اسنادو محرمانه آرشیف. Oriental and India Office Collections L/P&S/10/203




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ